بسم الله الرحمن الرحيم

# شریعت له جنسي تاوتریخوالي څخه د ښځو د خوندیتوب یوازینۍ لار ده

د خلافت له راپرځېدو وروسته په اسلامي هېوادونو کې جنسي تېری او د مسلمانو ښځو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي نورې بڼې ډېرې زیاتې شوې. اشغالګرو له جنسي تاوتریخوالي څخه د ښځو او د دوی د کورنیو د بې عزته کولو او مطیع کولو لپاره کار واخیست. غربي ځواکونه چې د خپلو غلامو حکامو له لارې یې اسلامي هېوادونه اشغال کړي؛ لا هم له جنسي ګواښ، جنسي تاوتریخوالي، جنسي تېري، ډلهییز جنسي تېري او جنسي شکنجې څخه نه یوازې د د ښځو او نارینهوو د وېرولو او د دوی پر لمن د تور داغ اېښودو لپاره کار اخلي؛ بلکې له دې لارې د دوی د کورنۍ ټولنیز اساس هم ویجاړوي. په سربېرېنیکا، دارفور، سري لیون او نورو ډېرو ځاینو کې زموږ پر خویندو د سیستماتیک تېري پر وړاندې د نړۍ رهبرانو یوازې د درواغو اوښکې تویې کړې او له هغه چا یې هېڅ پوښتنه ونه کړه چې دا ډول شیطاني جرمونه یې وکړل؛ ځکه چې دوی د اوسني وضعیت یوه برخه دي.

د CEDAW، د بیجینګ عملي چارچوکاټ، نیړدې دایمي ویناوو، قوانینو او د ملګرو ملتونو د مقرراتو، چې په تېرو څو لسیزو کې تصویب شوي، سربېره؛ د ښځو پر وړاندې د جنسي تېري او جنسي تاوتریخوالي ستونزه د تل پشان پراخه او لویه ده. دا وحشت لا هم په میانمار کې زموږ د خویندو پر وړاندې روان دی چې زموږ پر ۴ کلنو تر ۸۰ کلنو لونو او خویندو تېری کېږي؛ په افغانستان کې چې زموږ خویندې له خپلو کورنیو سره د مرستې لپاره د دندې پیدا کولو په بدل کې د نارینهوو د جنسي غوښتنو له ګواښ سره مخ دي؛ په سوریه کې چې زموږ خویندې د جنسي شکنجې له تر ټولو ناوړه بڼو سره مخ دي. کله چې زموږ خویندې په هغو هېوادونو چې اکثریت نفوس یې مسلمانان دي یا اروپا کې د پناهځای په لټه کې شي؛ له لا ډېرې پلیدۍ، د ژوند نامناسبو شرایطو، لا ډېر جنسي تاوتریخوالي او د انساني قاچاق له ګواښ سره مخ کېږي. دا ټول د انسان په لاس جوړو سیکیولر او پانګوالو قوانینو او فرهنګونو په سبب کېږي چې ښځې د مادي ګټې لپاره کاروي، جنسي کوي او د خپلو هغو اجنداوو لپاره ګټه ترې اخلي چې د هغو له لارې د کورنۍ واحد او ټولنه ویجاوړي او موږ د هغو مطابق ژوند ته اړ شوي یو. تاریخ په وار وار ثابته کړې چې له دغه ظالم او فاسد سیستم نظام سره هېڅ نه دي بدل شوي او نه بدلېږي. زموږ خویندې د مرستې لپاره چغې وهي؛ خو هېڅ داسې هېواد یا پوځ نشته چې مرستې ته یې ورشي.

تصور وکړئ چې کله خلافت بیا تاسیس شي او خلیفه شریعت پلی کړي؛ په ټوله نړۍ کې به د مسلمانو ښځو په توګه زموږ لپاره ژوند څنګه وي. په ټولنه کې به مو عزت کېږي او دجګړې او سولې پر وخت به خوندي وو (**۱۱۲مه ماده**). مسلماني ښځې به له دې اندېښنې سره ژوند نه کوي چې جنسي تاوتریخوالی به ورسره کېږي یا به پر دوی تېری کوونکی له سزا لیدلو پرته په کوڅو کې ازاد ګرځي. ښځو ته به د مادې په سترګه نه کتل کېږي چې د زدهکړې یا کار په برخه کې د بریا تر لاسه کولو لپاره د نارینه د غوښتنې او خوښې لپاره وکارول شي (**۱۱۳مه ا ۱۱۸مه ماده**). خلافت دولت به داسې تعلیمي نظام پلی کړي چې موخه به یې د فاسدې غربي عقیدې جوړول نه، بلکې د خالصې اسلامي عقیدې پر بنسټ په افکارو او اعمالو کې د اسلامي هویت او پېژاند جوړول وي (**۱۷۱مه ماده**)، دا به ډاډه کړي چې له ښځو سره تل په درناوي او عزت چلند وشي.

مونږ له غربي هېوادونو او غلامو مشرانو دا تمه نه شو کولی چې راشي او اسلامي هېوادونه خوندي کړي؛ څکه په لومړي قدم کې همدوی د تاوتریخوالي او ناخوندیتوب سبب شوي دي. مونږ مسلمانان باید حلالرۍ له خپل دین نه راواخلو. باید خلافت تاسیس کړو او د قوانینو هغه الهی نظام پلی کړو چې خپل خالق مو رالیږلی.

انشاءالله، کله چې شریعت او داسې قضايي نظام پلی شي چې د ښځو پر وړاندې جرم کوونکو ته ژر خپله سزا ورکړي، ښځې به بیا لکه پخوا چې د خلافت تر چتر لاندې وې، خوندي او امن ژوند ولري. هغه نظام چې داسې خلیفه به لري چې کله ان یوه ښځه د مرستې لپاره غږ اوچت کړي، خپل لښکر ورولیږي. هغه نظام چې د غرب ښځو ته د روښنايي یو څرک وي چې راشي او تر سیوري یې خوندیتوب لاندې یې ژوند وکړي؛ څکه دوی هم په خپلو هېوادونو کې د جنسي تاوتریخوالي له وېرووونکي شمېر ځوربږي او د ځان پر وړاندې د جرم ترسره کوونکو ته د سزا ورکول کېدو ډېره کمه هیله لري.

دا هغه نړۍ ده چې که الله سبحانه و تعالی غوښتل، مونږ به یې ولرو؛ کله چې د الله سبحانه و تعالی شریعت د ده سبحانه و تعالی تر نظام لاندې په هغه لار پلی شي چې زمونږ خواږه پیغمبر، محمد صلي الله علیه وسلم په مدینه کې پلی کړ.

**#أقيموا_الخلافة #ReturnTheKhilafah #YenidenHilafet**

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## ساره محمد ـ امریکا

***د خلافت لپاره د حزب التحریر د اساسي قانون له مسودې څخه:***

**۱۱۲مه ماده**ـ د ښځې اساسي او لومړنی دنده دا ده چې یوه مور او مېرمن وي. ښځه ناموس دی چې باید په عزت چلند ورسره وشي او ساتنه یې وشي.

**۱۱۳مه ماده**ـ د جنسیتونو بېلتون مهمه او اساسي خبره ده، دوی باید تر هغه چې شریعت اجازه نه وي ورکړې یا د هغې موخې لپاره چې شریعت د نارینه‌وو او ښځو د یو ځای کولو اجازه ورکوي، لکه پېر او پلور او حج؛ سره یو ځای نه شي.

**۱۱۸مه ماده**ـ ښځې له دې منع دي چې په شخصي توګه (خلوت کې) له هر هغه سړي سره وګوري چې واده ورسره کولی شي؛ ښځې همدارازله دې منع دي چې د پردیو سړیو په مخ کې ناز او نخرې وکړي یا خپل بدن وښیي.

**۱۷۱مه ماده**ـ د تعلیم د پالیسی موخه دا ده چې په فکر او چلند کې اسلامي شخصیت جوړ کړي. نو د درسي نصاب ټول مضمونونه باید د دغې پالیسی مطابق وتاکل شي.